بېشکه د آدم د ټولې اولادې زړونه د رحمان ذات د دوو ګوتو تر منځ دي، لکه يو زړه، نو هر لور ته چې وغواړي ګرځوي يې

له عبد الله بن عمرو بن العاص - رضي الله عنهما - څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: "بېشکه د آدم د ټولې اولادې زړونه د رحمان ذات د دوو ګوتو تر منځ دي، لکه يو زړه، نو هر لور ته چې وغواړي ګرځوي يې» بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "ای د زړونو اړوونکی ذاته! زمور زړونه خپل اطاعت ته وروګرځوه".

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

نبي صلى الله عليه وسلم خبر ورکړی چې د آدم د اولادې ټول زړونه لکه د يو زړه په څېر د رحمان ذات د دوو ګوتو ترمنځ دي، نو هغه يې چې هر لور ته وغواړي هغه لورې ته يې اړوي؛ که وغواړي، پر حق يې پاتې کوي، او که وغواړي له حقه يې اړوي، د الله تعالى واک او تصرف په ټولو زړونو کې داسې دی لکه د يو زړه په څېر، هېڅ کار يې له بل کاره نه بوختوي، بيا نبي صلى الله عليه وسلم داسې دعا وکړه او ويې ويل: ای د زړونو اړوونکيه! چې کله يې طاعت ته اړوې، کله ګناه ته، کله ذکر ته او کله غفلت ته – نو ته زمور زړونه خپل اطاعت واړوه.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6331